آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۷/۱۷

# د خوشال خان خټک آثار

## کليات، لومړی برخه

### خوشال پوهنه

### ۲۲

زه د خوشال پوهنې په دې بحث کې د خوشال پر ټولو آثارو نه غږېږم، يوازې يې پر هغو منظومو او منثورو آثارو خبرې کوم چې د ادب او سياست په ډګر کې ډېر مهم دي.

## ۱ ـ کليات:

کله چې پښتو ديواني ادب ته وکتل شي، ليدل کيږي چې، د خوشال د منظمو آثارو مجموعې ته کليات ويل شوي دي. د خوشال په شاعرۍ کې داسې اسناد موجود دي چې د ده د منظوم کلام د بيتونو شمير را په ګوته کوي. خوشال خان د خپلې شاعرۍ، د کلام صفت او خومره والي په باب په يوه قصيده کې داسې ويلي دي:

زه د شعـر پـه کـار هيڅ نـه يـم خوشال
ولـې خـدای مې کـړ پـر غـاړه دا مقال
نـه پـه فـکر، نـه په ذکر را بر سير شي
نـاګـهـان لـکـه اوره د پشـکـال
چـې د شـعـر و شـاعريه مذکور وشو
څـه خو غوږ باسـه زمـا پـه حسبِ حال:
قـصيدې لـرم غُـرا لـه هـره بـابـه
پـه حکـمت پـه نـصيحت کـې مـالامـال
پـه تـعـريـف د دلـبـرانـو غـزلـونه
په صـفـت د سترګو، ورځو، زلفو خال
ربـاعي ده کـه قـطـعـه کـه مثنوي ده
هـمـګـي واړه ګـوهـر دی دُر و لال
بـنـدو بـسـت د پـښـتـو شـعـر ما پيدا کړ
ګـنـه شـعـر د پـښـتـو و غـيـر سال
مـګـر زه يـې چې ګويا په شاعرۍ کړم
پـښـتـانـه بـه پـوهـول ايزد تـعـال
په دا بـنـد و بـست به نور تر ما بهتر شي
پـس لـه مـا چـې کـا د شعـر قيل و قال
ګـلـستان زمـا د شـعـر شـګـفـتـه شو
پـرې وهـي شـيـدا بـلـبـله پـر و بـال
ګلدستې يې لور په لور په مُلک خورې دي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

تــر کــابــلــه، تـــر کــشــمــیره، تر بنګال
درست دیــوان مي لکـه باغ د علم ګنج دی
پـــه کـي هـــر رنـــګـــه ګــــلــونه هر نهال
د دیوان مي که بیت، بیت سره حساب کړي
تـــر څــلــویښت زره به تیر شي په سر کال
پـــه غـزل پـــه ربــاعــي مـي زړه مین دی
چـي مـــــداح يــــم د دلــــبــرو د جـــمــال

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۳۹۶ــ ۳۹۷ ــ ۳۹۸ ــ ۳۹۹ ــ ۴۰۰ ــ ۴۰۱ مخونه)

په قصیده کي د راغلي نیټي له مخي دا شعر خوشال په ۱۰۹۵ کي ویلی دی، هلته یې ویلي دي چي تر دې نیټي پوري د ده د اشعارو د بیتونو شمیر تر څلویښت زرو (۴۰۰۰۰) اوړي:

د دیوان مي که بیت، بیت سره حساب کړي
تـــر څــلــویښت زره به تیر شي په سر کال

خو تر اوسه پوري يې د تر لاسه شوو ټولو منظومو آثارو د بیتونو شمیر څلویښت زره نه پوره کوي او بنايي له ۱۰۹۵ کال نه وروسته، چي ده پنځه نور کلونه هم ژوند کړی دی، نور شعرونه هم ویلي وي. استاد زلمي هیواد مل په «ننګیالی د زماني» نومي اثر کي لیکلي دي چي کومه قصیده چي خوشال په ۱۰۹۵ کي ویلي ده او د خپلو شعرونو د بیتونو شمیر يې په کي څلویښت زره ښوولي دي، «نو که اوسني چاپ شوي دیوانونه وګورو د خان ښوولي شمیره نه پوره کوي او دا خبره تري څرګندیږي چي د خان ډیر شیونه لا تر اوسه نه دي کشف شوي.» (هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني، ۱۳۸۰ــ ۲۰۰۱م، ۱۸۰ ام مخ)
د خوشال خان د دیوان یا کلیاتو د خطي نسخو په باب استاد حبیب الله رفیع او استاد زلمي هیوادمل د قدر وړ علمي څیړني او کار کړی دی چي خلاصه يې دلته را نقلوم:
«... د خوشحال خان د دیوان (کلیات) خطي نسخي په افغانستان، پښتونخوا، پاکستان، هندوستان، بریتانیا او ځیني نورو ځایونو کي پیدا کیږي. یوازي ښاغلي رفیع يې، ده ته معلومي څوارلس خطي نسخي موږ ته را ښودلي دي.
د خان د دیوان نوري نسخي هم شته. له دغو نورو نسخو څخه چي ما ته معلومي دي، یوه هم د بنګال ایشیا ټک سوسایټي (کلکته) نسخه ده. دغسي نوري هم در واخله.
د خان کلیات (دیوان) په څرګندو نسخو کي، زړه نسخه د ۱۰۹۹ هـ ق لیک، چي د افغانستان د علومو اکادمي په کتابخاني پوري اړه لري . بله نسخه يې د ۱۱۰۸ هـ ق کال ده او د هند د رامپور په رضا لایبریري کي ساتل کیږي...» (هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني، ۱۳۸۰ــ ۲۰۰۱م ، ۱۸۰ ام مخ)
د خوشال خان د اشعارو د چاپیدو د پیل په برخه کي ویل کیږي چي د لومړي ځل له پاره يې په منتخب ډول د کلام نموني چاپ شوي دي. استاد هیوادمل لیکي چي:
«... د خان څه شعرونه تر هر چا د مخه هانري جارج راورټي په ګلشن روه کي چاپ کړي دي. بیا پادري هیوز په کلید افغاني کي هم د ده منتخبات خوندي کړل.
بهارستان افغاني او شکرستان افغاني د پښتو نظم و نثر هغه پخوانی دوي مجموعي دي، چي د خان د دیوان منتخبات په کي چاپ شوي دي. وروسته بیا د خان منتخبات ډیر چاپ شوي دي...
د خان دیوان لومړی ځل پیښور د جیل په مطبعه کي د دوکتور بليو په زیار د سلطان بخش داروغه په اهتمام چاپ شوی دی. د دې نسخي لومړی برخه ۸۹ مخه ده، په ۱۸۶۹ م کال چاپ شوی. دویمه برخه يې چي په ۶۰۸ مخ کي پای ته رسیدلي، په ۱۸۷۰ م کال چاپ شوي ده. دواړه برخي يې یو ځای صحافي شوي او په یوه ټوک کي وړاندي شوي دي. دا دیوان دویم ځل په ۱۹۲۹م کال د پرفیسور عبدالمجید افغاني په مقدمه، په همتي مردان کي چاپ شو.
د خان د دیوان تحقیقي متن لومړی ځل پوهاند عبدالحی حبیبي تهیه او په ۱۳۱۷ هـ ش / ۱۹۳۸ م کال يې په کندهار کي چاپ او خپور کړ. علامه حبیبي په ۱۳۶۱ کال د خوشال د فراقنامي د نوي چاپ په سریزه کي د خوشال د همدي کلیاتو په باب داسي لیکلي وو:
«پنځه څلویښت کاله تر اوس د مخه، چي ما د خوشحال خان بشپړ کلیات په قندهار کي په ۱۳۱۷ شمسي چاپ کړ، په هغه وخت کي خوشحال پیژندني، تش په څو انګریزي کتابونو پوري اړه درلوده او پښتنو هم ډیر لږ پیژانده او د ده فکري او شعري آثار نه وه را برسیره سوي.» (خټک خوشال خان، فراق نامه، د راحت زاخیلي د زوکړي د سلمي کلیزي په ویړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د حبیبي صاحب مقدمه، ج مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

بل تحقیقي متن یې د استاد کامل مومند دی چې د «ارمغان خوشال» په نامه یې خپور کړی دی. د خوشال دا کلیات لومړی ځل په ۱۹۵۲م کال د اداره اشاعت سرحد پېښور له لوري چاپ شوی دی.




ارمغان خوشال اروابناد رسا تهیه کړی دی. په دې متن کې له دیوان سربېره، د خان ځینې نور آثار هم راغلي دي...
په کابل کې د پښتو ټولنې ځینو غړیو هم د خان د کلیات پر ترتیب کار کړی دی. د دیوان برخه یې په دوو ټوکونو کې چاپ شوې ده. لومړي ټوک کې غزلې او درې اشعار راغلي دي. په دویم ټوک کې یې قصیدې، قطعې او متفرقات راوړل شوي دي...
د خوشال خان کلیات د کابل چاپ د موادو په لحاظ غنی دی، اما د متن څېړنې د موازینو له پلوه ډېرې تشې لري...»
(هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني، ۱۳۸۰ـ ۲۰۰۱م ، ۱۸۰ـ ۱۸۱ ـ ۱۸۲ مخونه)

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ